# فیضانِ شیخ عبدُ الواحِد تمیمي رحمۃ اللہ علیہ

مع تذکره

# شیخ ابو الفرح یوسف طرطوسي رحمۃ اللہ علیہ

پښتو



پیشکش:

مجلس المدینۃ العلمیه (دعوتِ اسلامی)

ترجمه:

ټرانسلیشن ډپارټمنټ (دعوتِ اسلامی)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه رَبِّ الۡعٰلَمِيۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيۡطٰنِ الرَّجِيۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ ط

# په آسمانِ قادريت باندې پرِقيدونكے روښانه ستورے

د الله پاک په مونږه ډير لوئ احسان دے چې مونږه ئې د خپل خوږ آخري نبـي، مكي مدني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په اُمّت كښې پيدا كړو. ياد ساتئ! ظاهر و باطن د جسماني او روحاني ناپاكئ نه د صفا سُترا كولو، د نفسِ اَمّاره او شيطانانو د چالونو نه د ځان بچ كولو د پاره د كامِل پير لمَن نيول ډيره ضروري ده ځكه د ابليسِ لَعين او نفسِ اَمّاره د جال نه بچ كيدل ډير ګران دي، بزرګانِ دين رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم د شروع نه پيري مُريدي كړې ده. د طريقت په سلسلو كښې د سلسلۀ قادِريَّه شان داسې دے لكه څنګه چې د غوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه شان مبارك په نورو اوليائے كرامو دے. اعلٰـی حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: بيشكه قادري خاندان د ټولو خاندانونو نه اَفضل دے چې حُضُور سَيِّدُنا غوث الاَعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه اَفضل الاولياء دے.

(فتاویٰ رضويه، 568/26)

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! سلسلۀ قادِريَّه په ټوله دُنيا كښې ډيره مشهوره ده او دې سره سره د ټولو نه لويه سلسلۀ طريقت هم ده. د 15 صدئ د سلسلۀ قادِريَّه رضويه عظيم بُزرګ شيخ طريقت، رهبرِ شريعت، اميرِ اَهلِسنَّت حضرت

علامه مولانا، ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَة دے. هغوئي ته د ډېرو بزرګانو نه په څلورو مشهورو سلسلو کښې د بيعت کولو اجازت و خلافت حاصل دے خو هغوئي د خپل ځان په ذريعه مريد جوړوونکي د حُضُورِ غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه مُريد جوړوي.

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د هغوئي په ذريعه سلسلۂ قادريه کښې د مريد جوړ شوؤ کَسانو شمير په کروړونو کښې دے. اميرِ اهلِسنَّت د سلسلۂ قادريه رضويه ضِيائيه عطّاريه يو څلويښتم بُزرګ دے او په دې سلسله کښې د هغوئي دا تَعَلُّق د اِمامِ اهلِسنّت مولانا شاه امام احمد رضا خان رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه سره د تيريدو نه پس د پيرانِ پير، پيرِ دستګير سيدي حضور غوثِ اعظم رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه پورې او د هغوئي نه د حسنينِ کريمين رَضِيَ اللهُ عَنۡهُمَا نه د تيريدو سره د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنۡهُ په ذريعه د حُضُورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره ميلاويږي.

دا رساله د سلسلۂ قادريه د ديارلسم بزرګ حضرت ابو الفضل عبدُالواحد تميمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په سيرت مبارک تياره کړے شوي ده. اَلۡحَمۡدُ لِلّٰه! د دې رسالے د پاره د اُردو، عربئ او فارسئ تقريباً د 50 نه زياتو کتابونو کښې د موادو لټون کوشش شوے دے. د ولادت او وصال شريف وغيره په باره کښې په عربئ کښې موجودو موادو باندې يقين او اعتماد کولو سره د دارُ الاِفتاء اهلِسُنَّت شرعي تفتيش نه پس دا رساله مخے ته وړاندې کړے شوي ده.

د حضرت عبدُ الواحد تمیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د مزار شریف موجوده څه ویډیو یا تصویر که میلاؤ شي، د دې د پاره بَغداد شریف هم رابطه اوکړے شوه خو محرومه شو، البته د هغوئي د مزار شریف طرف ته منسوب یو تصویر میلاؤ شوے دے کوم چې شامل کړے شوے دے.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! الله پاک! دې مونږه د امیرِ اهلِسُنَّت په ذریعه د قادري کیدو په شان په سعادت مندئ باندې د آخري وخته پورې استقامت نصیب کړي او په دُنیا او آخرت کښې دې د حضرت عبدُ الواحد تمیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د حُضُور غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ربنتوني غلامي نصیب کړي.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

جمیلؔ قادری سو جان سے ہو قربان مرشد پر
بنایا جس نے تجھ جیسے کو بندہ غوثِ اعظم کا

(قبالهٔ بخشش، ص101)

وَالسّلام مع الْاِکرام

محمد طاهر عطاري مَدَني عُفِيَ عَنْهُ

* * * * * *

* * * * * * * *

## فيضانِ شيخ عبدُ الواحد تميمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه

**دعائے عطار:** يا ربِّ مصطفٰى! څوک چې دا رساله ''فيضانِ شيخ عبدُ الواحد تميمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه''اولولي يا واوري. هغوئ د سلسلۀ قادريه د بُزرګانِ دين رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم د فيضان نه مالا مال کړي او بے حسابه ئې اوبخښي او د غوثِ پاک رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه سره ئې په جَنَّتُ الفِردَوس کښې ګاؤنډي جوړ کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د عذابِ قَبر يو سَبَب (د ژبې بے احتياطي)

حضرت ابوبَکر شِبلي بَغداي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: ما خپل مړ ګاونډي په خوب کښې اوليدو، پوښتنه مې ترې اوکړه: مَافَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ يعني الله پاک ستا سره څه معامله اوکړه؟ هغه اووئيل: زه د ډيرو خطرناکو حالاتو سره مخ شوم، د مُنکَر نکير د سوالونو جوابونه رانه هم نه جوړيده، ما په زړه کښې سوچ اوکړو چې کيدے شي زما خاتمه په ايمان نه ده شوې. په دې کښې يو غږ اوشو: ''په دُنيا کښې د ژبې د غير ضروري استعمال په وجه تا له دا سزا درکړے کيږي.'' اوس د عذاب فرښتې زما په لور رامخکښې شوې، په دې کښې خوشبوداره او ښکلے بُزرګ زما او د عذاب په مينځ کښې راغلو (يعني آړ جوړ شو) او هغوئ ما ته د مُنکر نکير د سوالونو جوابونه رایاد کړل او ما هغه شان جوابونه ورکړل نو عذاب زما نه لرې شو. ما هغه بُزرګ ته عرض

اوکړو: ” الله پاک دې په تاسو رحم اوکړي! تاسو څوک يئ؟ اوئې فرمائيل: زه هغه کَس يم کوم چې ستا په پاک نبـي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې په کثرت سره د دُرُود شريف لوستلو په برکت پيدا کړے شوے دے او زه په هره سخته کښې ستا د مدد د پاره مقرر کړے شوے يم. (القول البديع، ص260)

تمہارا نام مصيبت ميں جب ليا ہوگا    ہمارا بگڑا ہوا کام بن گيا ہوگا

سُبۡحٰنَ اللّٰه! د زيات دُرُود شريف لوستلو په برکت چې د مدد د پاره قبر ته دُرُود شريف راتلے شي نو صاحبِ دُرُود، د الله پاک خوږ رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څنګه نشي راتلے! په بارګاهِ رِسالت کښې فرياد دے:

ميں گور اندھيری ميں گھبراؤں گا جب تنہا    اِمداد مری کرنے آجانا مرے آقا
روشن مِری تربت کو لِلّٰہ شَہا کرنا    جب وقتِ نزع آئے ديدار عطا کرنا

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د سلسلۀ قادِرِيَّه شان

په طريقت کښې د ډيرو مشهورو بُزرګانِ دين رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡهِم سلسلے دي مثلاً سلسلۀ قادِرِيَّه، چِشتيه، نَقشبَنديه او سُهرورِديه وغيره. خو د حضرت مولا علـي، شيرِ خدا رَضِىَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه را روانه د سيدي و مُرشدي، حضورِ غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه قادري سلسله مثالي سلسله ده.

اعلٰی حضرت امام احمد رضا خان رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه شانِ غوثِ پاک بیانوي او په خپل نعتیه کتاب ”حدائقِ بخشش“ کښې لیکي:

یہ چشتی سہروردی نقشبندی ہر اِک تیری طرف مائل ہے یا غوث

(حدائقِ بخشش،ص261)

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د سلسلهٔ عالیه قادریه دیارلسم بُزرګ

د سلسلهٔ عالیه قادریه عطّاریه دیارلسم بُزرګ، حضرت شیخ عبدُ الواحد حنبلي بن عبدُ العزیز تمیمي بَغدادي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه دے. هغوئي او د هغوئي والدِ محترم حضرت عبدُ العزیز تمیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل وخت عظیم بُزرګ، صوفي او ولئ کامل وو. شیخ عبدُ الواحد رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په 22 رجبُ المُرَجَّب 342 هجرئ د جمعے مبارکې په ورځ د مازدیګر په وخت په یمن کښې دُنیا ته تشریف راوړو. (تاریخ بغداد، 15/11، رقم:5677) د والدَین کریمَین په یمن کښې د اوسیدو له په وجه هغوئي ته یمني هم وئیلے شي، د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه کُنیَت ابو الفضل او لقب زَینُ الدِّین یعني د دین ښکلا دے. هغوئي ته تمیمي ځکه وئیلے شي چې د هغوئي تَعَلُّق د عرب شریف د عزت داري قبیلے بنو تمیم سره وو، دا هغه مبارکه قبیله ده د کومې سره چې د مسلمانانو د وړومبي خلیفه حضرت ابوبکر صدیق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ تَعَلُّق دے، بني تمیم عربو کښې د

اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَام په اولاد کښې دي او تمیم د دې قبیلے د مُورثِ اعلیٰ (یعني ورنیکه) نوم دے. (مرأة المناجيح،8/319،320)

## د بنو تمیم قبیلے شان په ژبه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

دا قبیله خومره لوئ شان والا ده چې د الله پاک د خوږ آخري نبـي مکي مَدَني، محمدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه د دې قبیلے په باره کښې پوښتنه اوشوه نو هغوئي ارشاد اوفرمائیلو: "هغوي [یعني بنو تمیم قبیلے والا] د سرې غونډئ یا د باران د غټو غټو خاڅکو په شان دي. دوئي سره دښمنئ کوونکي دوئي ته نقصان نشي رسولے." بعضې خلقو عرض اوکړو: بنو تمیم څوک دي؟ هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائیلو: الله پاک د بنو تمیم سره صرف د ښیګړې اراده کوي، هغوئي غټو سرونو والا، زیات عقلمند، ثابت قدم، د دجّال سره به په سختئ جنګ کوونکي او په آخرئ زمانه کښې د حق مددګار وي. (مسند الحارث، 2/942، حدیث:1039)

## په دجّال د ټولو نه زیات سخت څوک؟

په یو بل روایت کښې دي، صحابِـئ رسول حضرت ابُو هریره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي چې ما په دریو وجوه د بنو تمیم سره مُحَبَّت کولو کله چې ما رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په دې باره کښې په فرمائیلو واوریدلو چې دا خلق به زما

په اُمَّت کښې په دجّال د ټولو نه زيات سخت وي، چې کله د دوئي صدقے راغلې نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل چې دا زمونږ د قوم صدقے دي او د حضرت عائشه صديقه رَضِيَ اللهُ عَنْهَا سره د بنو تميم يوه وينزه (يعني خادمه) وه نو هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: دا آزاده کړه ځکه چې دا د حضرت اسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام په اولاد کښې ده. (بخاری،2/157،حديث:2543)

حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديث شريف په شرح کښې فرمائي: د دجّال د راوتلو په وخت به بنو تميم ډير زيات وي، د دجّال مقابَله به د ټولو نه زياته دوئي کوي، دا مقابَله د دوئي د ايمان د طاقت دليل دے. معلومه شوه چې د بعضې خلقو د عظمت په وجه ټول قوم ته عظمت ميلاويږي که هغه کسان اوس وي يا مخکښې تير شوي وي يا راتلونکي وي. دلته دريم قسم عظمت دے چې د دجّال سره مقابَله کوونکي تميمي به قيامت ته نزدې وي خو د دې قوم احترام او محبت د نن نه دے.

رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بني تميم ته خپل قوم اووئيلو، په دې وجه د دوئي عظمت نور هم زيات شو. **ياد ساتئ!** چې خپل مذهبي، هم مَشرب، خپل وطن وال، خپل پيشه وال، خپل نسبي، خپلے ژبې والا، يو استاذ، يو پير دې ټولو ته قوم وئيلے شي. دلته د وطن وال يا د خپلې ژبې په معنې سره قوم وئيلے شوے دے ګنې بني تميم قريشي هاشمي نه دي. (مرأۃ المناجيح،8/319)

## شجرۂ قادریّہ رضویّہ عطّاریہ کښې ذکرِ خیر

بہرِ شِبلی شیرِ حق دنیا کے کُتّوں سے بچا ایک کا رکھ عبدِ واحد بے رِیا کے واسطے

(شجرۂ قادریه، ص 68)

الفاظ او معاني: بَہر: په وسیله. شیرِ حق: د الله پاک ازمرے. دُنیا کے کتے: د مال او دولت حرص لرونکي. عبد: بنده. بے رِیا: مُخلِص.

د دُعائیه شعر مفهوم: اے الله پاکه! د خپل شیر حضرت ابوبکر شِبلي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په برکت ما د دُنیا د سپو (یعني مال و دولت حِرص لرونکو) نه بچ کړه او د حضرت عبدُ الواحد تمِیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسیله ما د یو دَر کړه.

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

وضاحت: د عبدُ الواحد معنٰی ده د یو الله بنده، عبدُ الواحد (دا د یو بُزرګ نوم دے د دوئي) سره "د یو سره اوساتي" دُعا غوښتلو کښې دا مناسبت دے چې دواړو کلماتو کښې "یوه" معنٰی ده.

## حدائقِ بخشش کښې ذِکرِ خیر

اے عاشقانِ اولیاء! امامِ اهلِسُنَّت، اعلٰی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هم خپل د فارسۍ په یو کلام کښې حضرت عبدُ الواحد تمیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته اِستغاثه کړي ده (یعني فریاد ئي کړے دے):

شیخ عبدُ الواحدا را هَم سوئے واحد نُما

ترجمه: اے زمونږه شیخ عبدُ الواحد! زمونږه لاره "د خدائے وحده لا شریک لهٗ" په لور اوګرځوي او مونږ ته د هغه لاره اوښائي.

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د والدِ مُحتَرَم عِلمي مقام

د حضرت عبدُ الواحد تمیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ والدِ محترم حضرت عبدُ العزیز بن حارث تمیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ په 317 هجرئ کښې دُنیا ته تشریف راوړو، د هغوئي کُنیَت ابو الحسن دے، هغوئي په حنبلي علمائے کرامو او جلیلُ القَدر خلقو کښې وو، هغوئي په علمِ فرائض او اُصول باندې کتابونه هم لیکلي دي. په 371 هجرئ کښې د ذُوالۡقَعۡدَةِالۡحَرَام په میاشت کښې هغوئي د دې فاني دنیا نه سفر اوکړو. (تاریخِ بغداد، 10/460، 461ملتقطا) د الله پاک دې په هغوئي رَحمَت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللهُ عَلَیۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د هغوئي د ورور په باره کښې ډېر خوندور روایت

د حضرت عبدُ الواحد تمیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ورور محتَرَم حضرت ابُو الفرج عبدُالوهاب تمیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ وو. هغوئي په 353 هجرئ کښې دُنیا ته تشریف راوړو، د حضرت عبدُ الواحد تمیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د وفات نه پس

هغوئي فتوې ورکړې او بيانونه ئې اوکړه، د بَغداد شريف په مشهور جُمات جامع منصور کښې به د هغوئي د حنبلي مذهب مطابق د مسائلو او بيانونو حلقه لګيدله. د هغوئي يو روايت په 9 واسطو سره مروي دے کوم کښې چې د هر يو راوي د والد صاحب کُنيت عبدُ الله وو او آخري راوي هغه راويت د حضرت علي رَضِيَ اللّٰهُ عَنۡهُ نه اوکړو. هغوئي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه په 425 هجرئ، ربيعُ الاوّل شريف کښې د شروع (د نهې او شروع په مينځنئ) شپه کښې د دې دُنيا نه سفر اوکړو، د هغوئي ځوي ابو محمد رِزقُ الله رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د هغوئي جنازه اوکړه او هغوئي د حضرت امام احمد بن حنبل رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه د مزار شريف خوا کښې خاورو ته اوسپارلے شو. (طبقات الحنابله،2/155) د الله پاک دې په هغوئي رحمت وي او د هغوئي په برکت دې زمونږه بے حسابه بخښنه وي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّيْن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## وراره ئې هم د فقهې امام وو

د حضرت ابو الفضل عبدُ الواحد تميمي رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه وراره محمد رِزقُ الله بن عبدُ الوهاب رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه هم د خپل وخت په لويو حنبلي علمائے کرامو کښې وو. ډير عبادت کوونکے، فراخه ژبے والا وو. هغوئي د خپل والدِ محترم حلقهٔ بيان د 450 هجرئ پورې جامع مسجد منصور کښې جاري

اوساتله او بيا هغه حلقه دارُالخِلافه بابُ المَراتِب ته منتقِل شوه او بيا به هر كال كښې څلور څله د رجب او شعبان په بركتي مياشتو كښې د امام احمد بن حنبل رَحۡمَۃُاللهِ عَلَيۡه د مزار شريف خوا كښې لګيدله په كومه كښې چې به ګڼرِ شمير خلق د بيان اوريدو د پاره حاضريدل. (طبقات الحنابله، 214/2)

## د فقه حنبلي عظيمُ الشان امام

امام حافظ شَمسُ الدِّين محمد بن احمد ذَهبـي شافعي رَحۡمَۃُاللهِ عَلَيۡه په خپل مشهور كتاب "سِيرُ اَعلامِ النُّبَلا" كښې ليكي: حضرت ابو الفضل عبدُ الواحد بن عبد العزيز بن حارث تميمي بَغدادي رَحۡمَۃُاللهِ عَلَيۡه د سلسلهٔ حنبليه په عظيمو امامانو او فقهاؤ كښې وو. هغوئي رَحۡمَۃُ اللهِ عَلَيۡه د خپل والدِ محترم، حضرت عبد الله بن اسحاق خراساني، ابوبكر نجّاد او احمد بن كامل رَحۡمَۃُاللهِ عَلَيۡهِم نه حديثِ پاك روايت كړے دے. هغوئي د حضرت قاضي ابوبكر باقلاني رَحۡمَۃُاللهِ عَلَيۡه دوست وو او د هغوئي سره به ئې محبت كولو.[1]

(سير اعلام النبلا، 13/170، 171، رقم: 3779 ملتقطا)

## عِلمي مقام او مرتبه

هغوئي په عِلمُ الكلام يو كتاب د "اِعۡتِقَادُ الۡاِمَامِ الۡمُنَبَّلۡ اَبِیۡ عَبۡدِ اللّٰهِ اَحۡمَدَ

[1]... د اردو په بعضې كتابونو كښې حضرت عبدُ الواحد تميمي رَحۡمَۃُاللهِ عَلَيۡه ته حنفي ليكلے شوي دي خو د عربۍ په ډيرو كتابونو كښې په حنبلي فُقهاؤ كښې هغوئي ليكلے شوي دي او زياته ظاهره هم دا ده چې هغوئي حنبلي وو. (تاريخِ بغداد، 460/10، طبقات الحنابله، 152/1)

بْنِ حَنْبَلْ“په نوم لیکلے دے، علامه احمد بن علـي خطیب بَغدادي د هغوئي شان داسې بیان کړے دے چې هغوئي ”صَدُوق“ وو. (”صَدُوق“ د حدیث په فَنّ کښې يوه اصطلاح ده.) (تاریخ بغداد، 15/11، رقم: 5677)

## د فُرات نهر به خپلې خزانې بَهر ته را واچوي

د سلسلهٔ قادِریَّه د عظیم بُزرګ حضرت ابو الفَضَل عبدُ الواحد رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په سند سره یو روایت اولولئ: أَخْبَرَنَا أَبُو الْفَضْلِ عَبْدُ الْوَاحِدِ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ بْنِ الْحَارِثِ التَّمِيمِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ اللهِ الشَّافِعِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا مُضَرُ بْنُ مُحَمَّدٍ الأَسَدِيُّ، قَالَ: حَدَّثَنَا سَعِيدُ بْنُ حَفْصٍ، قَالَ: حَدَّثَنَا زُهَيْرُ بْنُ مُعَاوِيَةَ، عَنْ سُهَيْلِ بْنِ أَبِي صَالِحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: يُحْسَرُ الْفُرَاتُ عَنْ جَبَلٍ مِنْ ذَهَبٍ، فَيَقْتَتِلُ النَّاسُ عَلَيْهِ، فَيُقْتَلُ، أُرَاهُ قَالَ: مِنْ كُلِّ مِائَةٍ تِسْعَةٌ وَتِسْعُونَ يَا بُنَيَّ: فَإِنْ أَدْرَكْتَ ذَلِكَ الزَّمَانَ فَلَا تَكُنْ مِمَّنْ يُقَاتِلُ عَلَيْهِ.

(تاریخ بغداد، 268/13، رقم: 7222)

ترجمه: مونږ ته خبر راکړو ابو الفضل عبدُ الواحد بن عبد العزیز بن حارث تمیمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه، اوئې فرمائیل چې محمد بن عبد الله شافعي مونږ ته حدیث بیان کړو، اوئې فرمائیل: مضَر بن محمد اسدي مونږ ته حدیث بیان کړو، اوئې فرمائیل چې سعید بن حفص مونږ ته حدیث شریف بیان کړو، اوئې فرمائیل چې زهیر بن معاویه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سهیل بن ابو صالح نه حدیث شریف بیان کړو او هغوئي د خپل والد نه او هغوئي د صحابئ رسول حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه

حديث شريف روايت کړو چې حضور صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: د فرات نه به د سرو زرو غرونه اوځي، په هغې به خلق په خپل مينځ کښې جنګ کوي نو په هرو سلو کښې به 99 ګسان اووژلے شي. اے زما ځويه! که چرې ته هغه زمانه بيامومې نو ته په هغوئي کښې د جنګ کوونکو نه مه کيږه.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا حديث شريف د قيامت په نښو کښې دے چې قيامت ته نزدې به داسې کيږي. حضرت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ليکي: بعضې شارحينو فرمائيلي دي چې دلته د غر نه مراد بيشميره سره زر دي، په دې سرو زرو به ملکونه جنګ کوي، عوام جګړې کوي. غرض دا چې سره زر به څه وي چې د جنګ او جګړو جرړه او د الله پاک عذاب به وي، هر يو ګس به په زړه کښې دا ارمان کوي چې کيدے شي دا ټول زما شي راځئ چې خپل قسمت اوکورو او د خلقو سره جنګ جګړه اوکړو. (مراٰۃ المناجیح، 7/258)

یاد رکھو! وُہی بے عقل ہے اَحمق ہے جو کثرتِ مال کی چاہت میں مرا جاتا ہے
اپنی اُلفت کا مجھے جام پِلا دو ساقی قَلْب دُنیا کی محبت میں پھنسا جاتا ہے
(وسائلِ بخشش، ص 432)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د حضرت خِضر عَلَيْهِ السَّلَام سره ملاقات

د الله پاک د خوږ نبي حضرت خِضر عَلَيْهِ السَّلَام صحبت حضرت عبدُ الواحد تميمي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته حاصل وو، يو ځل حضرت خِضر عَلَيْهِ السَّلَام هغوئي رَحْمَةُ اللهِ

عَلَيۡه ته يوه كجوره وركړه او دُعا ئي اوكړه چې ته عبدِ واحد (يعني د يو الله بنده) ئې الله پاک دې ستا په عمر کښې برکت واچوي. (شريف التواريخ، 624/1)

بهرِ شِبۡلی شیرِ حق دنیا کے کُتّوں سے بچا    ایک کا رکھ عبدِ واحد بے ریا کے واسطے

(شجرۀ قادريه، ص 68)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## بصيغۀ درود شريف ذكرِ خير

اعلٰـى حضرت رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ته په ډيرو سلسلو کښې اجازت و خلافت حاصل وو، هغوئي په عربئ، اُردو او فارسئ ژبو کښې د طريقت د مختلفو سلسلو شجرې ليکلې دي. يوه شَجره شريفه هغوئي مکمله په عربئ ژبه کښې بصيغۀ درود شريف ليکلې ده، په هغې کښې هغوئي د سلسلۀ قادِرِيَّه رضويه عطّاريه د ديارلسم بُزرگ، حضرت ابو الفضل شيخ عبدُ الواحد تميمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ذِكرِ خير څه داسې كړے دے: اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ وَعَلَى الْمَوْلَى الشَّيْخِ اَبِي الْفَضْلِ عَبْدِ الْوَاحِدِ التَّمِيْمِي رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ. (تاريخ و شرح شجرۀ قادريه بركاتيه رضويه، ص 109) دغه شان چې هغوئي کومه شجرۀ مبارکه چشتيه نظاميه، برکاتيه رضويه ليکلې ده په هغې کښې د هغې په وسيله د الله پاک په دربار کښې څه داسې عرض کوي:

اِک نگاہِ لُطف و رحمت کا ہوں مولا مُلتجی    ایک کا رکھ عبدِ واحد بے ریا کے واسطے

(تاريخ و شرح شجرۀ قادريه بركاتيه رضويه، ص 183)

# 507 كرامات

د سلسلهٔ قادِرِيَّه عظيم بُزرګ حضرت عبدُ الواحد تميمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه څو ځله حَرَمَينِ طَيِّبَين ته حاضري اوکړه. البته د عمر مبارک اکثره حصه ئي په بَغدادِ مُعَلّٰـى کښې تيره شوې ده. هغوئي د تقوىٰ او پرهيزګارئ نمونه وه او ډير عبادت ګزاره وو. د هغوئي عبادتونه مبارک د حضرت ابو بکر شبلي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه په شان وو لکه چې هغوئي فنا فِـي المُرشِد (يعني د پير و مُرشد په ياد کښې فنا) وو، د هغوئي نه سلسلهٔ قادِرِيَّه ډيره عامه شوه، بيشميره خلقو د هغوئي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه برکتونه حاصل کړه. "تواريخِ آئينه تَصَوُّف" کښې دي چې د هغوئي نه 507 کرامتونه ظاهر شو. هغوئي به د رسولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په سُنَّتو کلک عمل کولو.

(تواريخ آئينه تصوف،ص30،شريف التواريخ،1/624،تاريخ مشائخ قادريه رضويه،ص147)

# په سُنَّتو عمل

اے عاشقانِ رسول! د بُزرګانِ دين رَحْمَةُاللهِ عَلَيْهِم ژوند مبارک د سُنَّتو آئينه وي ځکه چې قرآنِ کريم کښې د حُضُورِ اَکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُسوَهٔ حَسَنَه (مبارک ژوند) زمونږ د پاره بهترينه نمونه ګرځولے شوې ده. د سلسلهٔ قادِرِيَّه عطّاريه عظيم بُزرګ اميرِ اَهلِسنَّت حضرت علامه مولانا، ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دامت بَرَكَاتُهُمُ العاليه شيخِ شريعت و شيخِ طريقت،

عاملِ سُنَّت، پیکرِ سُنَّت دے بلکه په سُنّتِ رسول عمل کول او هغه عام کول د هغوئي پیژندګلو ده، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هغوئي د نیکۍ د دعوت په برکت په لکونو اسلامي ورونړه او اسلامي خویندې په سُنّتو عمل کوونکي جوړ شو. اللّٰه کریم! دې د هغوئي سورے زمونږ په سرونو د عافیت سره سلامت اوساتي او مونږه دې د هغوئي د فیضان نه مالا مال کړي. اللّٰه پاک دې مونږه هم عاشقِ سُنَّت او مُخلِصِ عاملِ سُنَّت جوړ کړي. د امیرِ اهلِسُنَّت د سُنَّتِ رسول د خدمتونو زمانه اعتراف کوي. د اللّٰه پاک په دربار کښې عرض کوي:

کروں بے لَوث خدمت سنتوں کی　　　شہا گر لطف مجھ پر آپ کا ہو

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## خلفاء مریدین

د اولیائے کرامو رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡهِم د سیریت مبارک کتابونو د مطالعے نه د حضرت عبدُ الواحد تمیمي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه په خلفاؤ کښې صرف د یو مشهور خلیفه حضرت ابو الفرح یوسف طَرطوسي رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡه ذِکرِ خیر میلاویږي او هغوئي د سلسلهٔ قادِرِیَّه خوارلسم بُزرګ دے. په تواریخ آئینهٔ تصوف کښې دي چې د هغوئي 15 خلیفهٔ اصغر او صاحبِ مَجاز 18 حضرات وو.

(تواریخ آئینه تصوف ،ص30)

## وفات شریف

علامه احمد بن علي خطیب بَغدادي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه لیکي: چې د سلسلهٔ قادِرِیَّه عظیم بُزرګ د علم او عمل نمونه حضرت ابو الفضل عبدُ الواحد تمیمي حنبلي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه په 410 هجرئ کښې د ګل په ورځ د **ذُوالۡحِجَّةِالۡحَرَام** په آخرو ورځو کښې (یعني په 29 یا 30 تاریخ) د دُنیا نه سفر کړے وو او ما ته زما والدِ محترم اووئیل چې کله د هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه جنازه راوړے شوه نو 50 زرو خلقو د هغوئي جنازه اوکړه او په **مَقۡبَرَهٔ بَابُ الۡحَرب** کښې د سلسلهٔ حنبلیه عظیم بُزرګ حضرت امام احمد بن حنبل رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه او د خپل والدِ محترم حضرت عبدُ العزیز تمیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د مزار شریف سره خوا کښې خاورو ته اوسپارلے شو. (الروض الباسم فی تراجم شیوخ الحاکم، 654/1. تاریخ بغداد، 15/11، رقم: 5677)

د امام احمد بن حنبل او حضرت عبدُ الواحد تمیمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِما په باره کښې دا هم دي چې د هغوئي مبارک مزارونه د دجلے د سین [یعني دریاب] په غاړه وو، د دجلے دریاب کښې د سیلاب په سبب د مبارکو مزارونو حصه په دریاب کښې راغله او داسې د دغه مزارونو زیارت اوس نشي کیدے.

## سلسلهٔ قادِرِیَّه کښې د مرید جوړیدو برکت

اے عاشقانِ اولیاء! د پیرِ کامِل په مرید جوړیدو کښې د دُنیا او آخرت ډیره ګټه ده او د سلسلهٔ قادِرِیَّه رضویه عطّاریه خو څه لوئ شان دے! د دې

سلسلے بُزرگ شيخِ طريقت، رهبرِ شريعت، اميرِ اَهلِسنَّت حضرت علامه مولانا، ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي ضيائي دامت بَرَكَاتُهُمُ العاليه دے. هغوئي د باعمله عالِم سره سره د ښه اخلاقو غوره مثال دے. د فتنو په دې وخت کښې د هغوئي مبارک ذات زمونږ د پاره د الله پاک يو ډير لوئ نعمت دے. هغه اسلامي ورونړه او خويندې کوم چې تر اوسه پورې د جامع شرائط پيرِ کامِل په سلسله کښې شامل شوي نه وي، هغوئي دې دا نعمت غنيمت اوګڼړي او فوراً دې د اميرِ اهلِسُنَّت په ذريعه د غوثِ اعظم شيخ عبدُ القادر جيلاني رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مُريدان جوړ شي. اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيْم! په دوارو جهانونو کښې به کاميابي بيامومي ځکه چې زما مُرشد حُضُورِ غوثِ پاک رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: ما له يو ډير غټ رجسټر راکړے شو په کوم کښې چې د قيامت د ورځې پورې د ټولو مُريدانو نومونه ليکلے شوي وو او اووئيل شو چې دا ټول تا ته حواله کړے شوي دي. هغوئي فرمائي: ما په دوزخ د مقرر شوي فرښتي نه پوښتنه اوکړه: آيا په دوزخ کښې زما څه مريدان هم شته؟ هغوئي جواب راکړو: نه. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نور اوفرمائيل: زما دې د خپل پرورَدګار په عِزَّت او جلال قسم وي! زما دستِ حمايت زما په مريد باندې داسې دے لکه څنګه چې آسمان په زمکه سورے کړے دے. که چرې زما مُريد ښه نه هم وي نو څه اوشو، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! زه خو ښه يم، زما دې د خپل

پالونكي په عِزَّت او جلال قسم وي! زه به تر هغه وخته پورې د خپل رَبّ د دربار نه نه لرې كيږم تر څو چې خپل يو يو مُريد جَنَّت ته داخل نكړم. الله پاک زما سره لوظ كړے دے چې زما مُريدان او زما دوستان به جَنَّت ته داخلوي، بس څوک چې خپل ځان ته زما مُريد اووائي زه هغه قبلووم او خپلو مُريدانو كښې ئې شامِلووم او د هغه طرف ته خپله توجه ساتم.

(بهجة الاسرار، ص 193)

## د واټس ايپ (WhatsApp) په ذريعه مُريد جوړ شئ:

د مُريد جوړيدو يا د بل چا د مُريد جوړولو د پاره د هغه نوم، د پلار نوم او عمر اوليكئ او په 923212626112+ ئې واټس ايپ كړئ. په دې نمبر كال نه اوچتولے كيږي، صرف په ليكلي شكل كښې دا تفصيلات رااوليږئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## اشعار

د حضرت شيخ عبدُ الواحد بن عبدُ العزيز تميمي بغدادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په شان كښې ليكلے شوي د فارسئ بعضې شعرونه په كومو كښې چې د مختلفو القاباتو په ذريعه د هغوئي قطعهٔ تاريخ وفات بيان كړے شوے دے:

جناب عبدُ الواحد شيخ اكبر   كه روشن بود ہم چوں ماهِ انور

چوں زیں عالم بفردوسِ بریں رفت | تو گوئی ماہِ دیں زیر زمیں رفت

بتاریخ وصالِ آں گرامی | بگو "پیرِ ولیّ اللہ نامی!"

425ھ

شنو تاریخ تر حیلش تو از من | کہ میگردد عیاں از "شاہ احسن"

425ھ

بوصلِ آنجنابِ رہبرِ دیں | ندا آمد کہ "ہادی ناصرِ دیں"

425ھ

چوں آں ماہِ جہاں اندر جناں شد | بوصلش نورِ حقانی عیاں شد

چوں تاریخِ وصالِ اُو عیاں کرد | زبانم "سیدِ عارف" بیاں کرد

425ھ

بحق چوں گشت زیں عالم وِصالش | ندا شد "عارفِ دیں" است سالش

425ھ

خرد سال وصالش چوں گہر سفت | بسرور شاہ عالم زندہ شد است

عیاں تاریخ اُو چوں ماہ گفتم! | بہر یک "شاہِ عالی جاہ" گفتم

425ھ

عجب تاریخ وصلِ اُو عیاں است | بگو سرور کہ "واصل مہرباں" است

425ھ

(تاریخِ مشائخِ قادریہ رضویہ برکاتیہ، ص 147)

## د فارسئ د شعرونو (اُردو) ترجمه:

جنابِ عبد الواحد شیخِ اکبر — جو روشن تھے جیسے ماہِ انور

جب اِس عالَم سے وہ فردوسِ بریں چلا گیا — تو گویا دین کا چاند زیرِ زمیں چلا گیا

ان حضرت کی تاریخِ وصال میں — تم کہو "پیرِ ولیُّ اللّٰہ نامی"

425ھ

ان کی تاریخِ رحلت تو مجھ سے سن — جو "شاہِ اَحسن" سے ظاہر ہوتی ہے

اس رہبرِ دین حضرت کے وصل میں — ندا آئی کہ "ہادیِ ناصرِ دین"

425ھ

جب وہ ماہِ جہاں جنت کے اندر گیا — اس کے وصل سے نورِ حقانی عیاں ہوا

جب اُن کی تاریخِ وصال کو عیاں کیا — میری زباں نے "سیدِ عارف" بیاں کیا

425ھ

اِس عالَم سے جا کر حق سے جب ہوا ان کا وصال — ندا ہوئی "عارفِ دینی" ہے آپ کا سال

425ھ

عقل نے ان کا سالِ وصال موتی کی طرح نکالا — خوشی سے "شاہ واحد زندہ دل" کہا

425ھ

چاند کی طرح ظاہر ان کی تاریخ میں نے کہی — ہر ایک سے "شاہ عالی جاہ" کہی

425ھ

عجب ان کی تاریخِ وصل عیاں ہے — کہو سرور کہ واصل مہرباں ہے

## خوارلسم شيخِ طريقت

د سلسلۀ قادِرِیَّه رضويه عطاريه د خوارلسم بُزرګ، حضرت شيخ عبدُ الواحد تميمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خليفه حضرت شيخ ابو الفَرح يوسف بن عبدُ الله طَرطُوسي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه دے. هغوئي د وخت قُطب او په عظيم الشان اوليائے کرامو کښې وو. د هغوئي مبارک نوم يوسف، کُنۡيَت ابوالفرح، لقب علاؤُالدّين او راحَتُ المُسلمين وو. د ډيرې لوئے مرتبے او شان مالک وو. د هغوئي د والِدِ محترم نوم عبد الله بن يونس رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه وو. د سيرت په اکثرو کتابونو کښې د هغوئي د پيدائش کال ميلاؤ نه شو البته په يو ځائے کښې 15 رَبِيۡعُ الۡاَوَّل 407 هجري ليکلے شوے دے. طَرطُوس ښار کښې د پيدا کيدو او د هغوئي د والِدينو د قيام په نسبت هغوئي ته طَرطُوسي وئيلے شي.

## شان او عظمت

حضرت شيخ ابو الفرح طَرطوسي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه ډير عبادت کوونکے او توکل کوونکے بزرګ وو. د هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د دُنيا سره بالکل رغبت نه وو. هغوئي د خپل پير و مرشد حضرت شيخ ابو الفضل عبد الواحد تميمي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه خلافت حاصل کړو او د هغوئي په نقشِ قدم تللو سره ئې د سلسلۀ قادِرِیَّه فيضان په دُنيا کښې عام کړو. د والِدِ محترم حضرت عبد الله بن يونس رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه نه ئې هم فيض حاصل کړو او د حضرت فضيل بن عياض رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه

صحبت بابركت ئې هم موندلے دے.

## په شجرۂ قادريه رضويه عطاريه كښې ئې ذكرِ خير

بُو الفَرَح کا صدقہ کر غم کو فَرَح، دے حُسن و سَعد

الفاظ او معاني: بو الفرح: خوشحالئ والا. فرح: خوشحالي. حُسن: ښه والے او خير. سعد: خوش قسمتي

## د دُعائيه شعر مفهوم

يا الله پاكه! د شيخ ابو الفَرَح محمد يوسف بن عبدُ الله رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسيله زما غمونه په خوشحالو كښې بدل كړه. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## خوندور معلومات

د شجرۂ قادريه رضويه عطاريه د دې شعر خوبي دا ده: د كوم بزرګ چې كوم كُنيَت ذِكر شوے دے د هغوئې په نسبت سره دُعا غوښتلے شوې ده، مثلاً د "ابو الفرح" وسيلې وړاندې كولو سره فرح يعني خوشحالي غوښتلے شوې ده. په نوم او مدعا كښې دا نسبت دے چې دواړو كښې د "فرح" لفظ دے.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## 700 كرامات

په شريفُ التواريخ كښې دي چې د هغوئې نه تقريباً 700 كرامات منقول دي: امامِ اهلِسُنَّت مولانا شاه امام احمد رضاخان رَحْمَةُ اللهِ تَعَالٰى عَلَيْه د فارسئ

په شجره کښي ليکي:   بے فَرَح را بِالفرَح طَرطوسیا اِمداد کُن

ترجمه: اے ابو الفرح طرطوسي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه! زما په شان خفه ته خوشحالئ عطا کړه او زما مدد اوکړه.

د هغوئي مبارکه سلسله د هغوئي د مشهور خليفه حضرت ابو الحسن هکّاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه نه روانه شوه او حضرت ابو الحسن هکّاري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د سلسلۀ قادِريَّه رضويه عطّاريه پينځَلَّسَم بُزرګ هم دے.

## د اللّٰه پاک د رحمت موندلو نُسخه

حضرت شيخ ابو الفَرَح محمد يوسف بن عبد اللّٰه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: څوک چي د شروع په شپه دا وظيفه 80 ځله لولي نو په هغه به د اللّٰه پاک رحمت نازليږي، هغه وظيفه دا ده:

يَارَءُوْفُ اَنْتَ الَّذِيْ لَاتَرُدُّ الْمُحْتَاجِيْنَ وَالْمَسَاكِيْنَ مَحْرُوْمًا مِنْ بَابِه

ترجمه: اے هغه مهربانه ذاته! چي محتاجه او مسکينان د خپل در نه خالي لاس نه ليږي. (شريف التواريخ، ص628)

تو والی ہے ہر بیکس کا تو حامی ہے ہر بے بس کا
ہر اِک کے لیے دَر تیرا کھلا سبحان اللّٰه سبحان اللّٰه
یہ سالکِ مجرم آیا ہے اور خالی جھولی لایا ہے
دے صدقہ رحمتِ عالَم کا سبحان اللّٰه سبحان اللّٰه

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!   صَلَّى اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## وفات شريف

هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په 3 شَعبَانُ الْمُعَظَّم 447 هجرئ وفات شو. د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه مزار شريف په طَرطُوس کښې دے. د اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په صيغهٔ درود کښې ليکلے شوي شجره شريف کښې زمونږ د پير و مُرشد ذِکر مبارک څه په دې انداز دے:

اَللّٰھُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلَيْهِ وَعَلَيْهِمْ وَعَلَى الْمَوْلَى
الشَّيْخِ اَبِي الْفَرْحِ الطَّرْطُوْسِيِّ رَضِىَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ

په حدائقِ بخشش کښې اعلٰـی حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خليفهٔ شاهِ آلِ رسول حضرت ابو الحسين نوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په شان کښې يو منقبت ليکلے دے په هغې کښې د حضرت شيخ ابو الفرح رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په وسيلے سره څه داسې عرض کوي:

بو الفرح کے لئے فرح دیدے          غم نے گھیرا ہے اَحمدِ نوری

يعني اے احمدِ نوري رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه! زه غمونو راګير کړے يم، تاسو د حضرت ابو الفرح طَرطُوسي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په برکت ما ته خوشحالئ راعطا کړئ.

مجھے دونوں عالَم کی خوشیاں عطا ہوں          مٹا دے زمانے کے غم یا الٰہی

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الْمُرْسَلِیْنَ اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

## نیک او لمونځ ګزاره جوړېدو د پاره

هر زیارت د ماښام د لمانځه نه پس ستاسو په ښائے کښې کېدونکې د **دعوتِ اِسلامي** د سُنّتو ډکه هفته واره اجتماع کښې د رِضائے اِلٰهي د پاره ښو ښو نیتونو سره ټوله شپه تېروئ ❁ د سُنّتو د تربیّت د پاره **مَدَني قافِلو** کښې عاشِقانِ رسُول سره هره میاشت د درې ورځو سفر او ❁ هره ورځ د "**فِکرِ مَدِینه**" په ذریعه د **مَدَني اِنعاماتو** رساله ډکوئ او د هرې مَدَني میاشتې په یکم تاریخ ئې د خپل ښائے ذِمّه دار ته د جمع کولو معمول جوړ کړئ.

زما مَدَني مقصد: "**ما ته د خپل ځان او د ټولې دُنیا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي.**" اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ. د خپلې اِصلاح د پاره په "**مَدَني انعاماتو**" عمل او د ټولې دُنیا د خلقو د اصلاح د کوشش کولو د پار "**مَدَني قافِلو**" کښې سفر کول دي. اِنْ شَآءَ اللّٰه عَزَّوَجَلَّ







فیضانِ مدینه محلّه سوداګران زړه سبزي منډئ، بابُ المدینه (کراچۍ)
UAN: +92 21 111 25 26 92 | Ext: 7213
Web: www.maktabatulmadinah.com | E-mail: feedback@maktabatulmadinah.com